پښتو ژباړه: رحمت آريا ۲۰۲۳/۰۷/۰۸

# د افغانستان سياسي - تأريخي ژورنال
**(د افغانستان سياسي تأريخي ګزيټر)**

## پينځم ټوک
## کندهار
## او
## د افغانستان سويل – مرکزي برخي

دوه سوه او دری څلويښتمه پرله پسي برخه

ايديت:
ډاکټر لوډويګ آدمک

AKADEMISCHE DRUCK- u. VERLAGSANSTALT
GRAZ – AUSTRIA

1980

* **کوچي خيل**: ۲۵ – ۳۲، ۵۱ – ۶۶ «ن»: دا د زابل په ولايت کي د «تکه تو» د شمال لويديځ په تقريباً ۴ مايلی کي د ارغنداب د سيند پر غاړې يو کلی دی.
* **کـُـچـکيل**: ۴۲ – ۳۲، ۵ – ۶۶ «ن»: دا د تيرين رود پر غاړې د روزګان په ولايت کي د ميرآباد د ختيځ په تقريباً ۴ مايلی کي يو کلی دی.

**کچ خوارۀ**: ۵۴ – ۳۱، ۲۳ – ۶۸ «ن»: لوړوالی: ۶۸۰۰ فيټه. دا تره کي تيروی په شمال لويديځ کي يو دښته ده چي اوبـۀ ئـي د کچ خوارۀ او سنځلي په نالو کي چي د «ديروه» [1] د سيند اساسي سرونه دي، راټوليږي. داسي ښکاري چي دا نوم هغې سيمي ته په دقيق ډول ورکړل سوی چي د پورته يادو سويو د سيندونو زاويي جوړه کړې ده ، همدا شان دا نوم د دواړو سيندونو د ګډو اوبو دواړه غاړو ته هم ورکړل سوی دی. په دې دښتي کي ناصر، سليمان خيل، تره کي غلزي او زمرياني وګړي خپلي کروندې لري. دلته لاندني کلي په ۱۸۹۴ز کال کي په دغو نومونو ول:

| | |
|---|---|
| دوست محمد کلا | ناصر |
| خواجه محمد کلا | سليمان خيل |
| د بختاور له کاريزه د خازان تر کاريز پوري | تره کي غلزي |
| عطاء کاريز | زمرياني |
| زنګ کاريز | |

[1] -Dirwah river



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

د دغو کليو وګړي دائم استوګني او بزګران دي. دا دښته ډېره حاصلخيزه ښکاري، شګلنه خاوره لري چې پر مخ ئې واښـهٔ او بوټي نـهٔ شنـهٔ کيږي. اوبـهٔ ئې له کاريزونو دي. له تره کې تيروی ځخه تر وازی خوا او غزني پورې عمومي سړک له دښتې ځخه چې مخ پر شمال لوېديځ غځيدلې ده تيرېږي. «بن» *اوسنی نقشې دا نوم د «کوخ خوړ» [2] په بڼه ښيي.*

* **کودک**: ۳۸ – ۳۲، ۴۷ – ۶۶ «ن»: دا د زابل په ولايت کې داې چوپان ته نيږدې د ښوی رود پرغاړې يو کلی دی.

**کاديزې**: کودزي: دا د دراني پوپلزيو يوه ځانګه ده. «بيسکو» په دې نوم يو کلی د ارغنداب د سيند پر غاړې په ۳۲ – ۳۱، ۲۳ – ۶۵ «ن» واقع دی.

* **کوهٔ کـُـرد**: ۳۳ – ۳۳، ۵۱ – ۶۵ «ن»: دا د روزګان په ولايت کې د کيتي د کلي ختيځ کې يو غر دی.

* **کوچي**: ۴۷ – ۳۲، ۴۰ – ۶۶ «ن»: دا د روزګان په ولايت کې د روزګان په سويل کې او د «سَيرو غر» [3] په لويديځ کې يو کلی دی.

**کـُـلک**: دا له کندهاره تقريباً ۱۶ مايله ليرې د هرات د سړک پر غاړې «ساوليغي» [4] ته نيږدې يو کلی دی. «بيسکو» *په دې نوم يو کلی د «ګـَـدام» [5] د شمال په تقريباً ۶ مايلی کې په ۳۲ – ۳۲، ۵۲ – ۶۵ «ج» واقع دی.*

**قولو خشه**: ۵۲ – ۳۲، ۳۴ – ۶۷ «ن»: دا د غزني په ولايت کې د «کوهٔ کچل» په لويديځ کې د ارغنداب د سيند د يوې ځانګې پر غاړې يو کلی دی.

**کوچنی** «ژ»: کچنی: ۵۵ – ۳۰ ، ۱۳- ۶۶ «ن»: دا له «ګواجهه» ( د ګواجهه د کوتل په شمالي مدخل کې د کمپ له سيمې) ځخه ۲۰ مايله ليرې يو کلی دی چې د شاه پسند او تخته پل له لارو کندهار ته د سړک پر غاړه واقع دی. دا کلی په يوې دښتې کې واقع دی؛ د دې دښتې يوه برخه کرهنيزې ځمکې دي او يوه برخه ئې پوونده ده چې اڅکزي شپانـهٔ په کې خپل پسونه پيايي؛ کليفرډ په خپل يوهٔ راپور کې وايي چې دا ځمکې د «ماله زيو» [6] دي چې د «ګوجن زيو» [7] يوه فرعي ځانګه ده. پراير وايي چې د جنورې په مياشت کې له دې ځايه پريمانه د اړتيا وړ توکي ترلاسه کيدای سي خو ګيسلي بيا وايي چې په همدې مياشت کې «جنورۍ – ژ» يوازې بهوسه تر لاسه کيدای سي. او کمپ ته نيږدې د پسونو رمې ليدل سوې چې خريدل. له ګاونډيو کليو ځخه واښـهٔ ترلاسه کيدای سي او د اوښ خوراکي توکي پريمانه دي. په کلي کې د اوبو برابرولو وسيله دوې ځاه ګاني دي چې ۱۵۰ فيټه ژورې دي د سړک په دواړو غاړو کې يوه يوه ځاه ده چې د يوهٔ مايل په واټن له يو بله ليرې دي. د جنورۍ د مياشتې په نهمې نيټې د دغو ځاهانو اوبـهٔ د ښناک وړ وې خو لږ تروې وې او له بل پلوه د لوی ځواک لپاره کافي اوبـهٔ نـهٔ لرې. بريدمن شارپ آر. اي د ۱۸۷۹ز کال د دسمبر د مياشتي په دولسمې نيټي د دغو ځاهانو په هکله راپور ورکړ چې يوه ځاه کولای سي هره ورځ ۷۵۰ ګيلنه اوبـهٔ ورکړي خو دا اوبـهٔ ډيرې په ختو او د خاورو په دوړو ککړې اوبـهٔ دي. نوموړی وايي چې بله ځاه دومره اوبـهٔ لري چې هيڅ پای نـهٔ مومي او وايي چې اوبـهٔ ئې ډيرې غوره اوبـهٔ دي، خو دا ځاه ئې هغه مهال وچ وليدله کله چې يوه سپارهٔ ځواک دلته کمپ وواهـهٔ او څو ورځې وروسته وچه سوه نوموړی وايې چې له دې ځاه ځخه له ۱۰۰۰ ګيلنو پورته اوبـهٔ په ورځ کې نـهٔ سي تر لاسه کيدای. د ځاهانو خولې تقريباً ۴ فيټ مربع دي او اوبـهٔ ئې په يوې څرمنيني سلواغي کې د دوه وو اوښانو په وسيلې رااېستل کيږي چې په دې توګه په پينځو ساعتو کې تقريباً ۳۰۰۰ ګيلنه اوبـهٔ رااېستل کيږي. «دا شميره له مخکې ويل سوې شميرې سره د پرتلې وړ نـهٔ ده» د دغو دواړو ځاهانو څنګونو ته د ځارويو لپاره آبخورونه سته. له دغو دواړو ځاهانو ځخه يو مايل وړاندې د اوبو برابرولو نوري سرچينې هم سته. بيا هم د کمپ شمال ته «پراير وايي د کمپ شمال لويديځ ته» يو مايل وړاندې د اوبو سرچينه سته " او دا سرچينه په هغـهٔ تکي کې ده چې که تاسو د غرنی لړی د ځوکې تر تولو لوړ تکي ښی لاس ونيسي" شارپ وايي چې د کوچني په کيني خوا کې ۳ مايله وړاندې نورې اوبـهٔ په غرونو کې موندل کيږي چې هلته هم څو ځاهان سته خو په دغو ځاهانو کې يوه ئې ښـه ده. د دې ځاه خولـهٔ ۴ فيټ مربع ده او ۵ فيټه ژوره ده او ويل کيږي چې د اوبو يوه چينه هم سته چې په دغو اوبو هم تکيه کولای سو. خو اوبـهٔ ئې ډيرې نـهٔ دي. د کوچني يا کوچي نوم د هغـهٔ غرهٔ او ممکن هغه علاقې نوم وي چې د کلي په ګاونډ کې ده خو دا کمپ د سيمې رسمي نوم دی. دا کلی د «کوا کاريز» په نوم ياديږي «پراير، کليفرډ، ګيسلي، شارپ» دلته د ۲۵ خاصه دارانو يوه پوسته هم سته. (آی. بي. سي. ۱۹۰۵)

---

2 - Kwuc Khwar
3 - Sairo Ghar
4 - Saulaeghai
5 - Gadam
6 - Malazai
7 - Gujanzai


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

* **کُندلان**: ۱۹ ــ ۳۲، ۳۳ ــ ۶۶ «ن»: دا د زابل په ولایت کې د ارغنداب د سیند د یوې څانګې پر غاړې د کفترخانې د شمال په تقریباً ۱ مایلۍ کې یو کلی دی. په دې نوم بل کلی په «تنګې ماندې» کې په ۱ ــ ۳۳، ۵۰- ۶۶ «ن» کې موقعیت لري.
**کُندل کلا**: ۵۶ ــ ۲۹، ۵۷ ــ ۶۵ «ن»: دا د کندهار د ولایت د ښوراوک په ولسوالۍ کې د مندوزیو د سویل په تقریباً ۱۳ مایلۍ کې د لوړه د سیند پر غاړې یو کلی دی.
**کُـرم**: دا د ۲۲ کلیو یوه ډله ده چې له دیواله تقریباً ۹ مایله ورهاخوا، د ترنک د سیند په کیڼې غاړې کې او د خشک رود د درې له لارې له کندهاره تر غزنې پورې د سړک پر غاړې واقع دي. دا کلي د «لودین» تر سرلیک لاندې له قبیلې او وګړو سره په ګډه تشریح سوی دي. «آی. بي. سي.»
**کرزی**: یا: کـُـرزی: دا د نورزي درانیانو یوه څانګه ده. «بیسکو»
* **ګورکه**: ۵۴ ــ ۳۳، ۶ ــ ۶۶ «ن»: دا د روزګان په ولایت کې د نیل جوی په لویدیځ او د شهرستان «شای خمیران» رود د یوې څانګې پر غاړې یو کلی دی.
**کُـرکک**: ۳۶ ــ ۳۲، ۲۵ ــ ۶۵ «ن»: دا روزګان په ولایت کې د هلمند د سیند پر غاړې د دهراوټ د سویل لویدیځ په تقریباً ۵ مایلۍ کې یو کلی دی.
**کُرکُره**: ۹ ــ ۳۲، ۱ ــ ۶۶ «ج»: دا د شاه پسند او تخته پل تر منځ د لارې په اوږدو کې یو ټیټ کوتل دی.
دا کوتل د میل له درې څخه د ډورې تر درې پورې لاره سره نښلوي چې له همدې کبله ګیسلي له شاه پسند څخه تر تخته پل پورې لاره په دې ډول شرحه کړې ده:
" (له شاه پسند څخه) تقریباً ۱۳ مایله لیرې سړک د یوه بل خوړ له سره تیریږي او د ښي بلې غاړې کې د ډورې پر درې باندې ورکوزیږي، له دې ښتې څخه ښو نالې په تقاطع تیرې سوي دي او د ښتې ځمکه څوځو ځایه کښته کښیوتلي او غوچوړې ئـې جوړ کړي دي او د شګو څو تړانګې دي چې دا د درانده توپچې ځواک مارش په تأخیر غورځوي.
«ګیسلي»
**کرمه**: وګورئ: خرما

**کُـرتاغ**: ۵۰ ــ ۳۳، ۳ ــ ۶۷ «ن»: دا د روزګان په ولایت کې د آهنګران د لویدیځ په تقریباً ۴ مایلۍ کې  د هلمند له سیند څخه تقریباً ۳ مایله لیرې یو کلی دی.
**کوشاب**: یا خوشاب: ــ ۳۱، ــ ۶۵: دا د کندهار د سویل لویدیځ په تقریباً ۱۰ مایلۍ کې یو ګڼ وګړی کلی دی. دا کلی له تخته پل څخه تر کندهار پورې د سویلي سړک پر غاړې واقع دی او دا لاره د منډیسار د لارې په پرتلې ډیره مستقیمه ده خو په سیلابي موسمونو کې د اوبو لګولو په نهرونو کې د راپورته سویو اوبو له کبله اکثر وختونه د تګ وړ نـهٔ ده او له نهرونو تیریدل ناشوني دي. د کوشاب یا خوشاب نوم ښایي د دې ځای د ښو اوبو د لرلو له کبله دې سیمې ته ورکړل سوی وي. له دې ځایه بهوسه او وربښي تر لاسه کیدای سي همدا شان له ژمي پرته دلته رشقه هم سته. «آی. بي. سي.»
**کوشاني**: **کُـشاني**: ـ۳۲، ـ ۶۷: د توخي سیمه په ناوه کې د «روغاني» [8] له سیمې څخه لږ کښته پیل کیږي او د بارکزیو او د کوشاني د کلیو په ګډون مخ پر شمال ځغلي، د بارکزیو او کوشاني کلي د سیمې په ختیځ کې واقع او د «سپیر سنګ» [9] له کوتل سره موازی دي. «ایوان سمیټ»
* **کشکاوي دشت**: ۵۷ ــ ۳۲، ۴ ــ ۶۶ «ن»: دا د روزګان په ولایت کې د کامیزان د سیند او د چورې د شمال په تقریباً ۱۰ مایلۍ کې یوه سیمه ده.
**کُـشکِ نخود**: ۳۷ ــ ۳۱، ۳ ــ ۶۵ «ن»: دا د کندهار د لویدیځ ۴۰ له تر ۵۶ مایلۍ پورې یوه د پام وړ ولسوالي ده. د دې ولسوالۍ لوړوالی د ۲۰۰۰ او ۴۰۰۰ فیټو تر منځ دی. د دې سیمې مشر عبدالله خان نومیږي.
ویل سوي چې د دې سیمې اصلي نوم «کِشتِ نخود» دی ځکه چې په پخوا وختونو کې دلته نخود کرل کیدل؛ خو اوس نـهٔ د «خُشک» بلکه د کُشکِ نخود په نوم یادیږي. د دې سیمې له منځه یو کاریز بهیږي او د سیمې اضافي اوبـهٔ له ځان سره وړي؛ خو دا کاریز په عام ډول وچ وي. دا سیمه د څو کاریزونو په اوبو خړوبیږي چې د هغو دنګو غرونو له لمنو څخه پیل کیږي چې د شاه مقصود د غرنی لړۍ لویدیځه منتهی الیه جوړوي.
دا کاریزونه د کرهینزو ځمکو یو اوږد کمربند خړوبوي چې په ارتوالي کې یو مایل پلنوالی لري، او له سویل لویدیځ لوري ان د کشکِ نخود د سیند او د ارغنداب د سیند د یو ځای کیدلو تر ټکي پورې غځیدلی دی.

[8] - Rogani
[9] - Spir Sang


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ

د دې کمر بند پورتنی برخه د میوند تر سرلیک لاندې شرحه سوې ده، میوند په شمال ختیځ کې یوه مشهوره ولسوالي ده.
د کشک نخود د ولسوالی اساسي کلي دا دي:

| | | | |
|---|---|---|---|
| مُشَک | گلا جان کاریز | شاغاسي | اشک آباد |
| شاه سید محمد | مورچه | چهل گزي | محمد موسی |
| پیر زاده | سَپوزي کاریز | سرور جان کاریز | |

دوه وروستي یاد سوي کلي د کندهار – هرات سړک ته نیږدې دي. د کشک نخود سویل کې نور کلي نـهٔ سته خو د وچې شاړې ځمکې یوه پراخه تړانګه سته چې که ښـهٔ بارانونه وي نو دا تړانګه په ښې کرهنیزې ځمکې بدلیدای سي.

د کرهنیزې ځمکو له حدودو دباندې یوه لویه پراخه دښته ده چې په ښو کلونو کې د وښو نا منتها اندازه وابښـهٔ برابرولای سي خو د ۱۸۸۰ز کال د جون په میاشت کې دا دښته په مطلق ډول وچه او شاړه وه. د دښتې له منځه د اوبو خوړونو پراخې کرښې تیرې سوي دي خو دلته بارانونه دومره محدود دي چې د خوړ غاړې ئـې ډیرې ټیټې دي او د سرتیرو د تیریدلو لپاره کومه مانع نـهٔ جوړوي.
د دې درې د پسرلي یا «ربي» محصولات غنم او وربشي او د مني یا «خریف» محصولات ئـې جوار او مالوچ دي. چې لویه اندازه ئـې کندهار ته صادریږي. «لیچ»
**کشکِ نخود**: ۳ – ۳۱، ۳ – ۶۵ «ن»: دا له کندهار څخه تر گرشک پورې د سړک پر غاړې، له کندهاره ۴۶ مایله او له «مس کاریز» څخه ۶ مایله لیرې د دمې نیولو یو ځای دی. دا ځای په یوې حاصلخیزې او ښې خړوبې درې کې واقع دی، دې درې کې کلي او پیاوړې کلاګاني سته او له ظواهرو ئـې ښکاري چې دا ځای یو مهال د اهمیت وړ ځای وو.
د ۱۸۷۹ز کال د فبروری د میاشتي پر ۲۹ نیټې له هلمند څخه د ډگرجنرال بیدولف د ځواک د ایستلو پر مهال د ځواک پر وروستي محافظتي گارد برید وسو، دا برید د زمینداور د جنگیالیوله پلوه تر سره سو چې په پټه ئـې د دې ځواک خوځښت تر څار لاندې نیولی وو. د ښمن شمیر تقریباً ۱۵۰۰ تنه وو چې په شدت وځپل سو، د ښمن تقریباً ۲۰۰ تنه ټپیان او ووژل سول. کله چې خبر راغی چې د سردار محمد ایوب خان تر مشرۍ لاندې افغان ځواکونو د میوند له لارې له هلمند څخه پرمختگ کړی نو د ۱۸۸۰ز کال د جولای په میاشت کې د برید جنرال بورو ځواک همدلته کمپ وواهـهٔ.
لاندني معلومات د کانولي، فریبر او کورټ د معلوماتو له مخې ورکړل سوي دي: " دلته له ختو جوړ یو سرای دی چې برتانویانو د دې هیواد د اشغال پر مهال جوړ کړی وو، دې سرای ته نیږدې یو یا دوه کورونه ول چې استوگن وگړي په کې ول او هم د انارو یو ډیر لوی باغ وو او د خړوبولو اوبـهٔ ئـې له کاریز څخه وې. د دې سیمې شاو خوا زښتې ډیرې ورانې ویجاړې کندوالې سته، په دوی کې تر ټولوستره ئـې یوه مصنوعي غونډۍ ده چې پر سرباندې ئـې په لرغونو مهالونو کې یوه استحکامی کلا ودانه وه، ویل سوي چې دا کلا نادر شاه «افشار – ژ» ونړوله. همدې ځای کې ول چې درانی احمد شاه د افغان متحدو مشرانو له پلوه په یوه خولـهٔ د پادشاه په توگه وټاکل سو."
د دې ځای په هکله د بیت د ۱۸۹۳ز کال شرحه په لاندې ډول ده:
" له «حوضِ مد د خان» څخه سړک د دښتې له منځه مستقیماً د یوهٔ کوچني گردي غرهٔ پر لور چې د غرنی لړی په سویلی برخې کې په ښي لاس کې واقع دی ورځي. له همدې غرهٔ څخه په تیریدلو یوه نږیدلي کلا او بیلابیل کلي د سړي مخې ته راځي چې د کشک نخود د سیند د غاړې په شمالي او سویلي غاړو کې خوارهٔ وارهٔ پراتـهٔ دي. دا سړک د یوهٔ مایل لپاره لږ څـهٔ ډبرین دی ځکه د سړک په خوا کې غرونه دي او وړاندې د یوهٔ مایل په اوږدو د سیند کینه غاړه کې شگې دی. لومړنی اوبـهٔ چې مخې ته راځي په اووهٔ لسم مایل کې په یوهٔ نهر کې بهیږي چې په کین لاس کې ئـې یو شمیر ونې دي خو نیږدې شاو خوا ته ئـې کوم کلی یا د استوگنې ځای نـهٔ سته. کله چې زه له سیند څخه تیریدلم، بستر ئـې وچ وو. د سیند په ښي لاس کې پټي کرل سوي دي، چې ورها خوا ئـې د زړې نړېدلې کندوالې کلا د ویجاړو څنگ ته نیږدې د کمپ وهلو لپاره ځای سته. د ښو او رڼو اوبو دوه نهرونه همدلته سته چې اوبـهٔ ئـې له کاریزونو څخه دي، دا کانالونه یوې ئـې د کندوالي کلا په یوهٔ اړخ او بل ئـې به بل اړخ کې دی. په نیږدې چم گاونډ کې کوم کلی نـهٔ سته. زړه کلا په خپله یوه مربع ډوله غونډۍ ده چې په اوږد والي ۱۰۰ یارده ده او هر اړخ ئـې ۶۰ یا ۷۰ فیټه لوړوالی لري، سیمه ییز روایات وایي چې دا کلا چنگیز خان ودانه کړې ده، خو د کلا د تأریخ او سرچینې په هکله ډادمن معلومات نـهٔ سته. د غرهٔ له څوکې څخه د میوند او د شاو خوا سیمو ښکلی منظر په سترگو کیږي. ورهاخوا ئـې یوهٔ زیارت ته نیږدې چې یو شمیر د سرو یا د صبر ونې لري، د یوهٔ زاړهٔ سرای پاتې شوني دي، ویل سوي چې دا سرای برتانویانو ودان


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

کړی دی او دا هم ویل سوي چې دلته د «افغان – پیرنګ – ژ» د لومړۍ جګړې یعنی د ۱۸۳۹ – ۴۱ کلونو په ترڅ کې د سرتیرو د مؤقت پاتې کیدلو لپاره یوه احاطه هم وه. «د ۱۸۸۴ز کال چاپ، بیت» *په دې نوم یو کلی په ۵۲ – ۳۱، ۲۹ – ۶۵ «ج» کې موقعیت لري.*

**کشکنخود:** ۳۴ – ۳۱، ۲ – ۶۵ «ن»: دا نوم د هغهٔ سیند د بهیر وروستۍ برخې ته ورکړل سوی دی چې د پنج چینې کلیو ته نیږدې د نېش له غرونو څخه سر راپورته کوي، او د کاریز اوبهٔ په ځان کې راټولوي او بیا د سیدال په کلا کې د ارغنداب سیند ته ورغورځي. دا سیند په عام ډول د هغو کلیونو په نومونو یادیږي چې د دغو کلیو له څنګه تیریږي، یوازې له ګندا څو مایله پورته او کښته ئې د «بُني ګز» [10] په نوم یادیږي. د دې سیند د بستر په پورتنیو برخو کې په عام ډول اوبهٔ سته. په دې درې کې یو حکومتي ګودام هم سته او ویل سوي چې دې ګودام کې ۵۰۰ خرواره غلات سته. «لینس، بومي معلومات ۱۹۰۵»

**کوش اوبهٔ: کشوبي: خوږې اوبهٔ:** ۱۰ – ۳۱، ۲۰ – ۶۶ «ن»: دا د کدني په ولسوالۍ کې یوه دره ده. د دې درې اوبهٔ د خوږو اوبو په سیند کې راټولیږي او د بهیدلو د سویل لویدیځ تګلورې په نیولو سره مخ پر شاه پسند ورځي، او همدلته د کدني له سیند سره یو ځای کیږي، دا دواړه سیندونه د ډورۍ سیند تشکلیوي. لاندې د کشوبي « خوږو اوبو- ژ» د درې د کلیو نومونه دي چې د پنجاب د دویم سپارهٔ څواک افسر جګړن کلیفرډ لیکلي دي:

| شمیر | کلي | د قبیلې نوم | د کورونو شمیر |
|---|---|---|---|
| ۱ | ملا مصطفی | چالاک زي نورزي | ۱۸ |
| ۲ | ګل محمد | چالاک زي نورزي | ۸ |
| ۳ | جان ګل | چالاک زي نورزي | ۸ |
| ۴ | دادو | چالاک زي نورزي | ۸ |
| ۵ | انور | چالاک زي نورزي | ۷ |
| ۶ | وزیر | چالاک زي نورزي | ۱۲ |
| ۷ | حبیب الله | چالاک زي نورزي | ۱۵ |
| ۸ | میرویس | چالاک زي نورزي | ۶ |
| ۹ | عظیم خان | چالاک زي نورزي | ۷ |
| ۱۰ | عبدالرحمن | چالاک زي نورزي | ۶ |
| ۱۱ | دوست محمد | چالاک زي نورزي | ۸ |
| ۱۲ | غوث | چالاک زي نورزي | ۵ |
| ۱۳ | شادي خان | چالاک زي نورزي | ۶ |
| ۱۴ | عبدالحمید | چالاک زي نورزي | ۷ |
| ۱۵ | محمد شریف | چالاک زي نورزي | ۱۵ |
| ۱۶ | دوست محمد «دوهم» | چالاک زي نورزي | ۱۶ |
| ۱۷ | حاجي هاشم | چالاک زي نورزي | ۴ |
| ۱۸ | آزاد | پیرک زي نورزي | ۷ |
| ۱۹ | قادر | پیرک زي نورزي | ۶ |
| ۲۰ | اعظم | پیرک زي نورزي | ۸ |
| ۲۱ | ملا یعقوب | اسحق زي | ۱۵ |
| ۲۲ | مبین | اسحق زي | ۵ |
| ۲۳ | هوس Hawas | پوپلزي | ۵ |
| ۲۴ | دوست محمد آخوند زاده | الکوزي | ۶ |
| ۲۵ | شیر محمد | کوړزي نورزي Korezai Nurzai | ۶ |

دا دره حاصلخیزه ده او د کاریزونو په اوبو خړوبیږي. دلته وني په کافي اندازې پریمانه دي.

---

10 - Bunigaz


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

د دې درې کورونه اکثراً پلن هموار بامونه لري. استوګن وګړي ئې زيارګالي او سوله خوښي خلک دي او شمير ئې ۲۱۳ کورنۍ دی چې له دې شمير څخه ۱۷۷ کورنۍ ئې د نورزيو دي.

پورته ياد سوي کلي تول د لعل محمد تر مشرۍ لاندې دي يا پخوا ول، نومورې د چالاک زيو نورزيو لوی مشر دی. نومورې لاندني کلي په کدني کې لري يعني د دۀ ۵۰ کورونه دي، چې دوه پر دريم ئې څپرې دي او پاتې نور ئې ګنبدي کورونه دي. همدا شان:

| | | | |
|---|---|---|---|
| | | | کاريزونه |
| ملا نواب | چالاک زي نورزي | ۳۵ | ۲ |
| شير | چالاک زي نورزي | ۱۳ | ۱ |
| ملا رفيق | کورزي | ۱۲ | ۱ |
| مير کلام | کورزي | ۱۲ | ۱ |
| | | | کليفرډ. آی. بي. سي |

د دې ولسوالۍ استوګن وګړي چې اکثريت نورزي او الکوزي دي خپل ځمکني حاصلات په کال کې دوه ځله لو کوي. دوی غوايان، خرونه او يو شمير پسونه او وزې لري خو اوښان نـۀ لري؛ دلته غنم، وربشې، جواري او رشقه هم کرل کيږي. «بومي معلومات ۱۹۰۴ – ۱۹۰۵» اوسنی نقشي دا نوم د «خوړ اوبی» [11] په ډول ښيي.

**کوسه**: ۳۱ – ۱۸، ۱۹ – ۶۶ «الف» دا د «هډه» (آدي) [12] د غرۀ له منځه يو کوتل دی چې له چمن څخه تر کندهار پورې د متبادلي لارې په اوږدو کې د «ګاتي» [13] له شمال څخه تقريباً ۱۵ مايله ليرې واقع دی. «آی. بي. سي.»

**کوتي زي**: دا د دراني الکوزيو يوه څانګه ده. «بيسکو»

**کوتوزي**: دا د «ګـُـجن زيوَ» «اڅکزيو» يوه څانګه ده چې په توبه کې د ښش غرونو ته نيږدې ژوند کوی. د دوی شمير ۴۰۰ تنه جنګياليو ته رسيږي او د قاضي صالح محمد تر بولنې لاندې دي. «مل ول»

* **کوز قاسم زي**: ۸ – ۳۰، ۵ – ۶۶ «ن»: دا د کندهار په ولايت کې د ښوراوک په تقريباً ۸ مايلۍ کې د لوړه د سيند پر غاړه يو کلی دی.

**کواته**: ـ۳۱، ـ ۶۶: دا د يوې پراخې نالي نوم دی چې مخ پر سويل راکوزيږي او له «کلکه» لړ کوز په کدني کې تشيږي. دا ناله د خواجه زيو بارکزيو ده. «بن»

**لد ور**: ـ۳۱، ـ ۶۶: دا د مرغه چمن په شمال ختيځ کې يو کلی دی؛ دا کلی غرونو ته تر ټولو نيږدې کلی دی او د احمدزيو اڅکزيو کلی دی. چمن کې نور کلي د نورزيو دي. «ميتلند»

* **لاغرک**: ۲۵ – ۳۳، ۵۰ – ۶۵ «ن»: دا د روز ګان په ولايت کې د کساو په ختيځ کې د «ور خان» [14] د سيند د يوې څانګې پر غاړې يو کلی دی.

* **لغـر**: ۲۲ – ۳۱، ۳۱ – ۶۶ «ن»: دا د کندهار په ولايت کې له سپين بولدک څخه د ارغسان تر سيند پورې سړک ته نيږدې يو کلی دی.

* **لغرۍ دښته**: ۳۸ – ۳۱، ۳۳ – ۶۶ «ن»: دا د کندهار په ولايت کې د ارغسان د کلي شمال ته د کشک د سيند پر غاړه يوه ساحه ده.

**لګولی**:

نور بيا

*** کوچي خيل:...**

**يادونه:** قدرمنو لوستونکو! تاسو تر دغه لينک لاندی د ښاغلی آريا صاحب په آرشيف کی د لمړی ټوک، دوېم ټوک، دريم ټوک او د څلورم ټوک ټولې برخې لوستی شئ.

11 - Khowzh Owbay
12 - Hadah (Adi)
13 - Gatai
14 - Warkhan river


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په خير و لولـئ